مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

مصطفی پسرلی ۲۰۱۹/۰۱/۲۸

# غزل

نه پوهېږم چې خدایې څه راته لیکلي
تش دردونه یې په زړه راته لیکلي

ما صحرا وه د مجنون په څان منلې
نصیب لاره د جګ غره راته لیکلي

یار جفا کړي زه په سترګو ورته ړوند یم
بخت، نصیب یې د ړانده راته لیکلي

په امید، امید مې زړه دی خپل خوړلی
انتظار یې سوزیده راته لیکلي

پسرلیه! د خزان غم به دې وخوري
چې فطرت یې بیا راتله راته لیکلي

مصطفی پسرلی
27/01/2019



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ